بِسمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، بې‌پلوه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، بې‌پلوه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

---

## د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نېټه : 1 سپټامبر 2019 م

# د مرکب جهل علاج

يعني د هغې ناپوهی علاج ؛ کوم چه ناپوه په کښې په خپل ناپوهي باندې د پوهي ، علم يقين اوعقيده لری. او د دی دپاره چه لوستونکي د مرکب جهل په حقيقت باندې پوه شي ، دا شعردی مطالعه کړي .

هر کس که نداند و بداند که نداند
او نيز خر خويش به منزل برساند
وانکس که نداند و نداند که نداند
در جهل مرکب ابدالدهر بماند

لکه چه اطباء او ډاکتران د ځينې مزمنو امراضواو د علاج عاجز دي ، همدا رنګه د نفسي او روحي امراضو اطباء او ډاکتران د مرکب جهل د علاج نه عاجز دي. او دا ځکه چه دا رنګ خلک سره د ناپوهی ځنې د پوهي دعوا هم کوي او ديته نه حاضرېږی چه ځان په خپلې نا پوهی خبر کړي.

حضرت عيسی نبينا وعليه الصلواة والسلام به ويلي:

چه زه د مورنی وړوند او د مرض د ابرص ځينی عاجز نه يم؛ لکن د علاج کولو د احمق ځينی عاجزيم.

دومره ده چه يو څه سړی ته لږ قدرې اطمينان ورکوي چه ګوندې د دې مرض مصيبت رسيدلو خلکو به علاج پرې وشي هغه دا دی چه په دا رنګ خلکو دی د رياضي او ساينس علوم وويل شي لکه حساب او هندسه او داسې نور ... ځکه چه په علومو کښې حقايق په سترګو مشاهده کيږي او مطالب بداهت ته رسيږی.

ځکه چه د دې علومو په ويلو کښې به ورته يو لذت حاصل شي او په حقايقو باندې به يوځه پوه او عادی شي . ګوندې په ورو ورو سره دا مرکب جاهل يو وخت په خپلو خطاوو پوه او د دی دعوا

ونکړی چه زه پوه یم  او په دې وسیله د ده د جهل بسیطه شي او بیا دیته حاضر شي چه خپل خطاوې د علم په برکت سره محوی کړي او د بسیطه جهل ځنې هم نجات ومومي.

محترم لوستونکی  به خدای خبر چه د څنکه ناپوهانو سره مخامخ شوي وي ، او زه نه پوهیږم چې دوی به کوم جاهل مرکب لیدلی وي  اوکه نه ؛ او یا دوی به داسې نا پوه چه د سرې زړه خوري  او آسمانی تندر به وي  چیرته لیدلی وي  او که نه .

لیکن ما په خپله خوزښت ډیر داسې ناپوهانو سره خپل  زړه خوړلی او ځینی  داسې مرکب جاهلانو سره مخامخ شوی یم  چې تر ننه پورې په دې عقیده یم چه دا سړی به هیڅ د ساینس او ریاضي په علومو او د افلاطون او بوعلی سینا او د نابغه پوهانو په تعلیم به پوه او انسان نه شي.

هو : چه په لوح محفوظ ښکلی لیونی وي؛  به تعلیم  د معلم به هوښیارنه شي .

لیکن زمونږ وظیفه دا ده  چه اول به د دوی  د پوهې د پاره سعیه  لرو او په آخر کښې به دوعاء ورته کوو.

***

سعیدافغاني

کابل ـ خیرخانه مینه
د  ۱۳۵۴ هجري شمسي کال

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »





بازگشت به صفحه اصلی  ـ  www.said-afghani.org